# د اسلام له نظره په سیاست کې د ښځو ونډه


زینب فقیری*

شمس الحق کاکړ**

*د شرعیاتو پوهنځي محصله

**لاربنود استاد، د شرعیات پوهنځي علمی غړی

Zainabfaqiri@Gmail. com


## د مقالې نچوړ


په سیاست کې دښځو ونډه یوله هغو مهمو موضوعاتوڅخه ده چې د فقهاو او مسلمانو خیړونکو ترمنځ د بحث وړ ګڼل کیږی. نو ځکه په دغه مقاله کې داسلام له نظره په سیاست کې دښځو له ونډې بحث شوی دی او د دې ونډې د اهمیت په اړه څرګندونې شوي دي. همداراز دعلماوو او فقهاوو له نظره ځینو دولتي چارو ته دکاندید کېدلو حق او د امامت عظمی قضیه له دلیلونوسره راوړل شوې ده. زمونږ اساسي پوښتنه په دې موضوع کې دا وه چې آیا ښځې کولای شي په سیاسي چارو کې ونډه واخلي؟ تحقیق او پایلې داڅرګندوي چې ښځو ته په سیاسي او حکومتي چارو کې د ګډون مشروعیت ورکړل شوی دی خو دا ګډون خپل ځانګړي شرطونه لري. د څېړنې میتود کتابتونی ، او نوع یی توصیفي تاریخي ده.



**کلیدي ټکي:** ښځه، اسلام، سیاست، سیاسی ونډه.


## Abstract


In politics, there are several important issues that need to be discussed, especially those related to religious scholars and Muslims. However, in this article, the focus is on the intersection of Islam and politics and the significance of this intersection. It highlights the rights of scholars and religious authorities in shaping government policies and the crucial matter of leadership. One fundamental question in this regard is whether religion should be involved in political affairs. Research and evidence suggest that the legitimacy of political and governmental actions has been established in accordance with political and historical methodologies.



**Keywords:** Woman, Islam, Politics and Political participation

## سریزه

الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه كما يحبُّ ربنّا ويرضى و صلى الله وسلم على سيدنا محمد المعبوث للعالمين رحمةً وهدى، رضي الله عن آله الأطهار و صحابته الأبرار، منارات العلم و الخير و التقى.

مخکې له هر څه د ستر څښتن تعالی (جل جلا له) شکر ادا کوم، چې موقع یې راکړه تر څو د دې موضوع له لارې د خپلو درنو هېوادوالو په چوپړ کې د ګتې جوګه وګرځم. هڅه مې کړې چې داسې قطعي دلایل او آثار د دې موضوع په اړه خپل اولس ته وړاندې کړم چې د نن او سبا نسلونو ته پر غوره پيغام برسیره یو معيار ولري او د علم او فن خاوندان پرې قانع شي.

**اصلي پوښتنه:** آیا ښځې کولای شي په سیاسي چارو کې ونډه واخلي؟

لوی قادر الله (جل جلا له) د عرش نه تر فرشه پورې د ټولې نړۍ پیدا کوونکی او خالق دی، چې د دې حقیقت څرنګوالی نه یوازې په قرآنکریم او آسماني صحیفو کې لیدل کیږي بلکه بشري فطرت، سلیم عقل، انساني تاریخ د پخوانیو اثارو پیژندونکو پوهانو څرګندونې او نوي ساینسي اختراعات ټول د مخلوقاتو د پیدا کوونکي او پالونکي الله (جل جلا له) شته والی ثابتوي.

رب العالمین پخپله تشریعي حاکم دی لکه څنګه یې چې د انسان د جسماني ژوند د جوړښت او پايښت لپاره د خپلو نعمتونو خزانې پیدا کړې دي، په همدې توګه یې د انسان د روحاني، اخلاقي او تمدني ژوند د پرمختګ لپاره د عدل او انصاف په بنسټ ولاړ د ژوندانه نظام هم جوړ کړی دی چې په هغه کې د ژوندانه د هر اړخ لپاره ځانګړې لارښوونې او قوانین شته. نو د هغه له لوري را لیږل شوی قانون یعنې د اسلام مبارک دین د هر ډول عیب او نقص څخه پاک او مبراء دی او د هر وخت لپاره وړ او مناسب دی.

د دې حکمونه او قوانین د کوم خاص فرد او ځانګړې ډلې او قوم د غوښتنو تابع نه بلکه د ټول بشریت د مصلحت او ښیګڼو په بنسټ ولاړ دي، د دنیوي او اخروي ژوندانه ښیګڼې دواړه د الهي نظام په پیروۍ پورې تړلې دي.

د دې بشپړ او پاک نظام د اصولو سرچینه الهي وحې او رسالت دی، رسول او نبي د حقیقي حاکم باوري استازی او سفیر دی، د نبوت د پای ته رسیدو نه وروسته اوس د اسلامي نظام د تشریعي قوانینو ماخذ قرآن او سنت دي.

نو داسې تصور او باور بلکل غلط دی چې الله (جل جلا له) د خپلو معصومو انبیاء او رسولانو په واسطه یوازې د عقیدې او عباداتو احکام خپلو بنده ګانو ته را لیږلي دي، بلکې د انسان د ژوند د ټولو اړخونو لکه ټولنیز، اقتصادي، او سیاسي احکام او قوانین یې را لیږلي دي.

مخکې له دې چې موږ د اسلام په مبارک دین کې د ښځو د حقوقو څرګندونې وکړو، لازمه ګڼم چې د بشریت تاریخ ته هم مخه کړو چې د ښځې په اړه څه څرګندونې کوي.

ښځه د یونانیانو، رومیانو، هندوانو، یهودو او نصاراوو په وړاندې تر پینځمې میلادي پیړۍ پورې د یو ناقص انسان په څېر پیژندل کېدله حتی تر دې چې د ښځې په اړه مناقشات کېدل چې روح هم لري او که یوازې جسم دی؟ او یا چې روح لرونکی جسم دی.

هندوانو داسې عقیده درلوده چې کله د ښځې خاوند مړ شي د ژوند کولو حق نه لري نو له همدې کبله به یې د مړ شوي خاوند سره یو ځای سوځوله. تاریخ دا گواهي ورکوي چې مصریانو به هر کال د نیل سیند ته یوه سینگار کړې پیغله هدیه کوله تر څو د نیل سیند خپلې اوبه وچې نه کړي. د جاهلیت په زمانه کې عربانو دا عادت درلود چې نجونې به یې ژوندۍ خښولې، د انگلستان په قانون کې د اتلسمې میلادي پیړۍ تر آخره پورې یوه نارینه اجازه درلوده چې خپله میرمن په بازار خرڅه کړي همدا شان د فرانسې قانون هم د ښځو حقوق تر پښو لاندې کړي وو. تر دې چې په ۱۷۸۹ میلادي کال کې د فرانسي‍ـ په ستر انقلاب کې ځیني قوانین د ښځو په گټه تعدیل شول.

کله چې د اسلام مبارک دین ظهور وکړ هغه ناوړه عرف او عنعنات له منځه ولاړل کوم چې مخکې له اسلام نه ښځو ته د زیان او ضرر سبب گرځیدلي وو. اسلام وو چې ښځو ته یې په ټولنه کې یو مناسب مقام ورکړ چې له برکته یې له هغو ناخوالو او کړاوونو چې وړاندې ورسره مخ وې وژغورل شوې، همدا رنگه د میراث حق، مهر، نفقه او داسې نور ټولنیز او سیاسي حقوق یې خوندي شول.

اوس که د اروپا تاریخ د اسلام له سپیڅلي تاریخ سره پرتله کړو نو اروپا په ۱۷۸۹ میلادي کال کې د ښځو د حقوقو په اړه په قانون کې ځیني تغییرات راوستل، حال دا چې د اسلام مبارک دین په ۶۳۴میلادي کال کې په بشپړه توگه تکمیل شوی دی، نو په خورا ویاړ سره ویلای شو چې د اسلام مبارک دین ۱۱۵۵ کاله مخکې له اروپا نه ښځو ته په درنده سترگه کتلي او ښځو ته یې د شریعت مطابق ځانگړي حقوق ورکړي دي.

د موضوع اهمیت

نن سبا په شرق او غرب کې ډیره لویه غوغا د ښځو د حقوقو په نامه د ښځو او سړو تر منځ د برابرۍ او مساوات په مقصد رامنځ ته شوې ده.

دا غوغا لکه وباء غوندې خپرېدونکې ده، آن تر دې چې ځینې ښځینه او نارینه وو اسلام ته په بدو ویلو پیل کړې ده.

ځیني خلک د فساد او فتنې او ځینې بیا د اسلام په حقیقت د نه پوهېدو په هدف دا ادعاء کوي.

نو د دغو ادعاوو د رد کولو په خاطر، هغو خلکو ته د پیغام د رسولو په خاطر کوم چې د دې موضوع په اړه د اسلام له حقیقت نه نا خبره دي او د هغو فتنو له منځه وړلو په خاطر کومې چې اسلام ته د ضرر رسولو په خاطر رامنځته شوي دي دا موضوع موږ ځېرلې ده.

که موږ او تاسې فکر وکړو نن سبا د غربیانو لخوا دا خبره ډیره مطرح او د بحث وړ گرځېدلې، د بېلگې په توگه (د ښځو حقوق )، (حقوق زنان )، (Women Rights)

دوی داسې ادعا کوي چې د اسلام سپېڅلی دین د ښځو په حقوقو کې پاتې راغلی او په اصل کې اسلام د ښځو د حقوقو منافي دی، د دوی په وینا مونږ اوس هڅه کوو چې د ښځو حقوق په بشپړه توگه ور ورسوو، سوال دا پیدا کیږي چې آیا د دوی دا ادعا سمه او په حقه ده؟ دوی خپلو دغو ادعاوو او نظریو ته څومره د عمل جامه ور اغوستې ده؟

## تاريخي مخينه

په دې موضوع کې ليکل شوي کتابونه لکه د" عبدالمجيد زنداني" کتاب «المرأة و حقوقها السياسية في الإسلام» (۱۴۲۱ هـ) ، "استاد سالم البهنساوی"، مكانة المرأة بين الاسلام والقوانين العالمية (۱۴۰٦ هـ)، د "دوکتور مصطفی السباعي" کتاب المرأة بين الفقه والقانون (۱۴۳۱ هـ) د تحقيق نه وروسته دې پايلې ته رسيدلې يم چې ښځې کولای شي د امامت عظمی نه پرته په نورو دولتي چارو کې ونډه واخلي خو د ځينو خاصو شرطونو په درلودلو سره.

شوي تحقيقات د دې موضوع په هکله په اړونده کتابونو کې په تفصيلي توګه او په عربي ژبه تر سره شوي.

هغه لاملونه نه دي ذکر شوي چې په سياست کې يې د ښځې ګډون کم رنګ کړی.

اساسي موضوع ته پاملرنه نه ده شوې او موضوع په خپره توګه راوړل شوې ده.

دا مقاله ځينې ځانګړتياوې لري چې د ليکل شوو کتابونو څخه يې پرې توپير جوتيږي او د اهميت وړ يې ګرځوي.

- د ښځې ټول سياسي حقوق په خلاصه توګه د علماوو د نظرياتو سره ليکل شوي دي.
- مقاله په پښتو ساده الفاظو سره ليکل شوې ده.
- مقاله کې په اساسي موضوع باندې زياته پاملرنه شوې ده.
- هغه لاملونه ذکر شوي چې په سياست کې يې د ښځو ګډون کم رنګ کړی دی.

## د سياست او مشارکت تعريفونه

### د سياست تعريف

سياست د فعالة په وزن د ساس يسوس فعل د مصدر صيغه ده چې معنی يې اصلاح کول، ښايسته کول دي او د کارونو جوړول او برابرول دي، د همدې لغوي معنی په اساس دا کلمه د رياست، حکومت او د هېواد د چارو د سمبالولو په ځاي کارول کيږي ځکه چې د رياست هدف د خلکو د حالت اصلاح، بهتروالی او سوکاله ژوند دی.

د سياست اصطلاحي تعريف په اړه پوهان بېلا بېل نظرونه لري چې د بيلګې په توګه به له ځينو څخه لاندې يادونه وشي.

امام غزالي (رحمه الله) د سياست په هکله وايي (استصلاح الخلق وإرشادهم إلى الطريق المستقيم المنجي في الدنيا والآخرة) (غزالي، ۱۴۲٦: ۲۱) سياست د خلکو له اصلاح کولو څخه عبارت دی او خلکو ته دسمې لارې لارښوونې څخه چې په دنيا او آخرت کې يې د خلاصون ذريعه وګرځي.

په معاصرو علماوو کې تر ټولو غوره تعريف استاد سالم بهنساوي کړی دی، نوموړی وايي: سياسي حقوق عبارت له دې نه دي چې په مستقيمه توګه د هېوادوالو ګډون د دولت په اداره او چارو کې لکه د هېواد د جمهور ريس منصب يا د وزير منصب او يا هم په غيره مستقيمه توګه لکه د شورا د استازو له لارې ګډون که هغه د ملت استازيتوب وي او که نورې سيمه ايزې شوراګانې وي. (بهنساوي، ۱۴۰٦: ۱۰۳)

## د مشارکت تعریف

په لغت کې مشارکت د شارک فعل مصدر دی له شراکت څخه اخیستل شوی، په یو شي کې د دوو یا ډیرو کسانو شریکېدل.

په اصطلاح کې د یو ملک په سیاسي چارو کې د عامه مصالحو په موخه د یو یا له یو څخه د ډیرو کسانو شریکېدلو ته وایي.

په سیاست کې د ښځو ګډون د شریعت له پلوه څرنګه ارزوو؟

د ښځو ګډون په سیاسي چارو کې هغه حق دی چې الله (جل جلا له) انسان (نارینه او ښځینه) ته د خلقت سره سم ور په برخه کړی، الله تعالی فرمایي: ﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً﴾ [النساء: ۱]

ترجمه: اي خلکو له خپل هغه رب نه وویرئ چې تاسې یې له یو تن څخه پیدا کړي یاست او له هماغه تن څخه یې د هغه جوړه مینځ ته راوړه او له دي دواړو نه یې په نړۍ کې ډیر نارینه او ښځې خواره کړل.

له پورتني آیت شریف نه دا جوته کیږي چې الله(جل جلا له) د نارینه او ښځینه تر مینځ مساوات قایم کړی، چې دا مساوات په اصل کې پر شرعي احکامو کی په دوو شرطونو باندي ولاړ (استوار) دی.

الف: په اسلامي شریعت کې د مکلف کېدو سبب او علت.

**ب: د اسلامي شریعت عامېدل**

په شرعي احکامو کې د مکلف کېدلو سبب او علت عقل او بلوغ دی نو که دا سبب او علت په ښځینه او نارینو کې پیدا شي شرعي احکام ورته راجع کیږي.

د اسلامي شریعت عامېدل په دې معنی دي چې شریعت ټولو انسانانو (ښځینه او نارینه) نژادونو، سیمو او مختلفو ښارونو ته رالیږل شوی دی لکه څرنګه چې الله تعالی په قرانکریم کې فرمایي: ﴿**قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا**﴾ [الاعراف: ۱۵۸]

نو مساوات د ښځینو او نارینو تر منځ په حقوقو او تکالیفو کې په دې معنی نه دي چې هیڅ توپیر د دوی په منځ کې نشته ځکه چې شرعي احکام په داسې علتونو او خاصو صفاتو باندې مبني دي چې ځیني یا ټول یې د دې احکامو شرط دی، نو کله چې ښځې او سړي د دې احکامو په شرایطو کې سره برابر وي حتما په احکامو کې هم سره برابر دي، او که چېري شرایط په کې توپیر ولري حتما احکامو کې هم توپیر راتلای شي.

په سیاست کې د ښځو ګډون د دوی حق دی او که مسؤولیت؟

د پورته ذکر شویو دلایلو له مخې دا ثابتیږي چې په سیاست کې د ښځو ګډون د هغوی حق دی، آیا د دې حق په وړاندې دوی کوم مسؤلیت لري او که نه؟ حدیث شریف کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: «مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ، لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ، وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً. » (مسلم، د حدیث رقم: ۱۸۵۱)

علماء او فقهاء د دې حديث مقصود داسې بيانوي: چې په دې حديث سره ثابتيږي، په انسان باندې واجب دي که هغه نارينه وي يا ښځينه دا چې د امام يا خليفه سره بيعت وکړي او که چېرې يو انسان په داسې حال کې وفات شي چې له هيڅ امام يا خليفه سره يې بيعت نوي کړی نو يقينا دغه انسان خپله لاره د مسلمانانو نه بيله کړه او پايله يې د جاهليت په مرګ وفات کېدل دي. د دې حديث شريف نه دا څرګنديږي چې د ښځو ګډون په سياست کې حق هم دي او د دې په وړاندې مسؤليت هم لري، ځکه د حق او مسؤليت تر مينځ توپير دا دی چې حق بل چا ته وربښل کيږي اما مسؤليت عبارت له هغه مکلفيت نه دی چې انسان د هغه په مقابل کې ځواب ويونکی وي.

د پارلمان، ښاروالي او نورو ادارو لپاره د ښځې انتخاب کېدل

## علماء په دې مسئله کې اختلاف نظر لري

لومړی نظر: ځيني علماء په دې اند دي چې د ښځې لپاره روا نه دي چې په سياسي حقوقو کې ګډون وکړي، ځکه چې دا نه د اهل الحل و العقد لپاره اهليت لرونکې ده او نه د شورا عضوه کېدلی شي او نه د محلي شورا ګانو او ښاروالی لپاره غړې کېدلی شي دغه چارې يوازې تر نارينوو پورې خاصې دي او هم د دې مقامونو لپاره ذکوريت شرط دی. (المودودي، ۱۹۵۲: ۱٦۴)

دويم نظر: ځيني علماء په دې اند دي چې د نومړو منصبونو لپاره ذکوريت شرط نه دی، ښځه د سياسي چارو د تر سره کولو حق لري، هغې ته روا ده چې ځان د پارلمان غړې کړي او هم کولی شي چې د محلي شورا ګانو او ښاروالی غړې شي. (الحجوي، ۱۹٦۷: ۳۳)

## الف: د لومړي نظر دلايل

## قرآنکريم

الله تعالی فرمايي: ﴿**الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ** [**النساء:۳۴**]﴾ نارينه پر ښځينه مسلط اداره چيان دي، له دې امله چې الله د هغو ځينو (نارينوو ) ته پر ځينو نورو (ښځو ) لوړتيا ور ببنلې ده.

ښځه به د شورا له غړو څخه نه وي ځکه نارينه زيات د دې مستحق او وړ دي قوامت د نارينوو دپاره دی، په دې اساس ښځه به د نارينو و څخه نه مخکې کيږي او نه به پر نارينوو واکمنه وي. (أبو فارس، ۱۴۰۰، ص ۱۲۰)

أبو الأعلی المودودي (رحمه الله) وايي آيت په دې تاکيد کوي چې د دولت اساسي پوستونه لکه عام رياست، وزارتونه، د پارلمان غړيتوب ښځو ته نه ورکول کيږي (أبو الأعلی المودودي، ۱۳۸۹: ۳۱۸ )

همدارنګه الله (جل جلا له) فرمايي ﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ﴾ [الاحزاب- ۵۳]
د پيغمبر له ميرمنو څخه که تاسې څه متاع غواړئ نو د پردې تر شا يې وغواړئ. آيت په دې دلالت کوي چې ښځه به په کور کې پاتې کيږي پرته له ضرورت څخه به نه وځي ځکه دا په دې مکلفه ده چې د نارينوو څخه به پرده کوي، د هغوي سره به اختلاط نه کوي نو واجب ده چې د سياسي ژوند څخه لرې

وي، او دا آیت د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) تر بيبيانو پورې محدود نه دی بلکه ټولو ته شامل دی. (أبو الأعلی المودودي، ۱۳۸۹: ۱۲۰)

3- الله پاک په بل ځای کې فرمایي: ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾[بقرة: ۲۲۸]

دا آیت په دې دلالت کوي چې نارینه په ښځینه فوقیت لري، ځیني وایي چې دغه لوړوالی د امارت او اطاعت دی. (الطبري، ۱۴۲۰، رقم ۲/۴۵۴)

## د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) سنت

- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً» (بخاري (۱۴۲۲ هـ) رقم حدیث: ۴۴۲۵) هغه قوم به هیڅکله بریالی نشي چې د چارو واک یې د ښځو په لاس کې وي.
- ترمذي کې حدیث شریف دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: «وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ بُخَلاَءَكُمْ، وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا.» (ترمذي(۱۹۹۸م) رقم حدیث: ۲۲٦٦) او کله چې ستاسې مشران شریر خلک وي، شتمن مو بخیل خلک وي او چارې مو د ښځو په لاس کې وي نو د ځمکې لاندې ستاسو دپاره د برسېره نه بهتره ده.
- د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) څخه روایت شوی هغه وفرمایل: (کله چې نارینه د ښځو اطاعت وکړي نو هلاک شول) أخرجه أحمد ۲۴۷۳، والحاکم ۷۷۸۹ ) نو ښځه چې کله په شورا کې وي د دې معنی دا ده چې د ملت په فیصلو کې به ګډون کوي او خلک به د همدې شورا د فیصلو اطاعت کوي په دې سره نارینه د ښځو اطاعت کوي او حدیث د دې خبر ورکوي چې دا هلاکت دی. (أنور ۱۴۲۰، ۳: )

## اجماع

داکتر محمدابو فارس وایي: رسول الله(صلی الله علیه وسلم) او خلفاء راشدینو ښځه د اهل شورا څخه نه ده ټاکلې نو دا د هغوی اجماع ده. (أبو فارس، ۱۴۰۰: ۱۲۱)

عقل

په ولایتونو او عامه دندو کې دایمي کفائت شرط دی، نو ښځه لکه علماء چې وایي ځانګړې بدني او نفسي ځانګړتیاوې لري چې دا یې د نارینه په پرتله کفائت ټیټ او کمزوری کوي د دې برسیره ښځه زیاته عاطفه لري، د ستونزو او سختیو د تحمل توان نشي لرلای نو له دې کبله سیاسي چارې هم مختنه نشي وړلای. (أبو حجیر، ۱۹۹٦: ۴۹٦ )

## ب: د دویم نظر دلایل

قرآنکریم

الله تعالی فرمایي: ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾[ممتحنة: ۱۲]

اې پیغمبره! کله چې تاته مؤمنې ښځې د بیعت کولو لپاره راشي او د دې خبرې ژمنه وکړي چې هغوی به له الله سره کوم شی نه شریکوي،غلا به نه کوي، زنا به نه کوي، خپل اولاد به نه وژني، د خپلو لاسونو او پښو په وړاندې به کوم جوړ کړی بهتان نه راوړي او په کوم معروف کار کې به ستا نافرماني نه کوي له هغو نه بیعت واخله د هغو په حق کې د الله نه مغفرت وغواړه، په یقیني ډول الله ښښونکی دی.

قرآنکریم د دې تاکید وکړ چې مومنانې ښځې به په عامه سیاسي چارو کې ګډون کوي او دا د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په بیعت سره ثابت دي. (رجب، ۱۹۸۶: ۷۳۷)

همدارنګه فرمایي: ﴿مَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ﴾ [آل عمران: ۶۱]

تاته د دې علم له راتګ نه وروسته که اوس څوک په دې باب له تاسره جګړه وکړي نو اې محمده! ورته ووایه چې راځئ موږ او تاسي به پخپله هم راشو او هم به خپلې خپلې کورنۍ (زامن، لوڼي او ښځې) راولو او د خدای په وړاندې به دعا وکړو چې که هر څوک دروغجن وي پر هغه دې د خدای لعنت وي. آیت کې څرګنده شوه چې ښځې د نارینوو سره په غونډه او عامه مهمو چارو کې ګډون کولای شي. (الکبیسي: ۱۰۸۸: ۳)

دا راز فرمایي ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ [التوبة: ۷۱]

مؤمنان نارینه او مؤمنانې ښځې دا ټول د یو بل دوستان دي په ښو چارو امر او له بدیو منعه کوي لمونځونه قایموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي دا هغه کسان دي چې پر هغو به د الله رحمت نازلیږي نو بیشکه الله پر ټولو برلاس او حکیم دی.

د دې آیت په هکله شیخ محمود شلتوت وایي: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مسؤولیت د اسلام له نظره تر ټولو ستر مسؤولیت دی او اسلام په صریح ډول په دې قضیه کې د ښځې او نر تر مینځ مساوات بیان کړي. (شلتوت، ۱۴۲۱: ۲۲۷)

۳- همداراز فرمایي: ﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً﴾ [النساء: ۱]

اې خلکو د هغه رب نه وویریږئ چې هغه تاسې له یوه تن څخه پیدا کړئ او له هماغه تن څخه یې د هغه جوړه مینځ ته راوړه او له دې دواړو نه یې په نړۍ کې ډېر نارینه او ښځې خپاره کړل. بل ځای کې الله تعالی فرمایي: ﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا﴾ [الحجرات: ۱۳]

اې خلکو موږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې نه پیدا کړئ او بیا مو تاسې قومونه او قبیلې و ګرځولئ چې تاسې یو او بل سره وپیژنئ. دواړه آیتونه په دې تاکیدکوي چې ښځه له نارینه سره یو شان ده دواړه له یو اصل څخه دي نو د دې نصوصو د غوښتنې په اساس د ښځې انسانیت بشپړیږي او هم یې حقوق او وجایب ثابتیږي چې دواړه په کې یو شان دي ځکه د مکلفیت علت یو دی او هغه په دواړو کې عقل دی. (أبو حجیر، ۱۹۹۶: ۴۶۶)

۴- الله تعالی فرمايي: ﴿أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ﴾ [شورى: ۱۳] او تاسو دین برپا کړئ، د سیاسي امورو تر سره کول چې په پایله کې یې امنیت ټینګیږي، په ټولنه کې نظم او عدالت خوندي کیږي، د پراختیا، نېکمرغی، طاعت او عبادت لپاره لاره هواریږي، نو سیاسي چارې د دین په برپا کولو کې ستره ونډه لري. او د دین د برپا کولو امر ښځې او نر دواړو ته متوجې دی، نو ښځې په سیاسي کړنو مکلفې دي.

۵- داسلامی سیاست محتوا چی یوازی د دنیوی او اخروی مصالحو تأمین او دمفاسدو دفع کول دی، د امربالمعروف او نهی عن المنکر په اړه چې کوم آیتونه او حدیثونه راغلي د هغو ټولو نصوصو په حکم کې ښځې هم شاملې دي، نو ښځې د سیاست په بهیر کې د عاقلو او بالغو په صفت مکلفې دي.

## د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) سنت

- د مسور بن مخرمه او مروان څخه د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د هغه خروج په اړوند روایت شوی چې حدیبیې ته ووت او هلته چې بیا د حدیبیې صلحه را مینځ ته شوه دې کې راغلي: کله چې د لیکني څخه فارغ شو نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اصحابو ته وویل پاڅې شئ نحر او ذبح وکړئ او بیا سرونه وخروئ، وایي قسم په الله چې هیڅ یو هم ولاړ نشو تر دې چې درې ځله یې دا خبره ورته وکړه بیا د ام سلمی خیمې ته راغی هغې ته یې واقعه بیان کړه ام سلمة ورته وویل: اې د الله (جل جلاله) رسوله ته همدا خوښ ګڼې؟ ووځه د هیڅ یوه سره خبره مه کوه تر څو چې ته خپله ذبح وکړې او نه ئی راوغواړې چې سر درته وخروي همداسې یې وکړل، بیرون ته ووت او له هیچا سره یې خبرې ونکړې تر دې چې همدا چاره یې تر سره کړه، کله چې صحابه وو ولیدل نو هغوی هم پاڅیدل او خپلې هدیې یې ذبح کړې او سرونه یې وخرول تر دې چې زیاته ګڼه ګونه جوړه شوه. (البخاري(۱۴۲۲ هـ) رقم حدیث: ۲۷۳۱، ۲۷۳۲) دا په دې دلالت کو ي چې د ښځو سره مشوره جواز لري ځکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به د ښځو سره مشورې کولې نو په دې اساس روا ده چې په پارلمان کې غړې شي. (أنور، ۱۴۲۰: ۴۲۸ )

۱- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي:(ښځې د نارینه و شقیقې دي ) (ابو داود، ۱۴۳۰، رقم حدیث: ۲۳۶)

۲- همدارنګه فرمايي: (تاسو ټول د آدم (علیه السلام) اولاده یاست او هغه له خاورې څخه پیدا شوی. (أبو داود، ۱۴۳۰، رقم حدیث: ۵۱۱۶)

دواړه حدیثونه په دې دلالت کوي چې نارینه او ښځینه سره مساوي دي ځکه دواړه د بني آدم اولاده دي او هغه له خاورې څخه پیدا و، نو ښځه په شورا ګانو کې د ګډون حق لري ځکه دواړه سره مساوي دي. (أبو حجیر، ۱۹۹۶: ۴۶۹)

۳- همدارنګه په سنتو کې ثابت دي چې ښځې به جومات ته تللې او د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) سره به یې د جماعت لمونځ کولو، هغه (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: تاسي ښځې له جوماتونو څخه مه منع کوئ خو د دوی لپاره کورونه بهتر دي ) (أبو داود(۱۴۳۰ هـ) رقم حدیث: ۵۶۷ ) نو ثابته شوه چې ښځه جومات ته تللی شي او جومات هغه مهال داسې وو لکه

اوس چې د شورا تعمیر دی، نو په دې اساس کولای شي چې د پارلمان غړې هم شي. (أنور۱۴۲۰: ۴۳۳)

## اجماع

**استاد محمد حجوي وايي**: د نبي کريم (صلی الله علیه وسلم) څخه وروسته اجماع په دې وشوه چې ښځې د امامت عظمی دنده نشي اخیستلی دا په دې معنی ده چې د دغه منصب نه بغیر نورې دندې اخیستلی شي او دا سکوتي اجماع ده. (الحجوي، ۱۹۶۷: ۲۳۰)

## د صحابوو عمل

د قریشو يوې ښځې په عمر (رضي الله عنه) باندې نيوکه وکړه دا هغه مهال چې کله يې وويل: اې خلکو تاسي ولې د ښځو په مهر ورکولو کې زيادت کوئ او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او د ده اصحابو به څلور سوه درهم ټاکل که چېرې زيادت د مهر ښه کار وای نو هغوی به کړی وو خو کله چې له منبر څخه را ښکته شو ښځې ورته وويل تا دا نه دي اوريدلي چې الله پاک فرمايي: ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا﴾ [النساء: ۲۰]

بيا عمر (رضي الله عنه) وويل ټول خلک له عمر نه زيات پوه دي او بيرته منبر ته وخوت ويې ويل: اې خلکو! ما تاسو د زيات مهر څخه منع کولئ نو اوس وايم چې څومره ورکوئ خوښه مو. (البيهقي، ۱۴۲۴، رقم حديث: ۱۴۳۳۶ ) نو عمر (رضي الله عنه) د همدې ښځې خبره ومنله او د خپلې رايې څخه بيرته وګرځيد چې دا خپله د دې معنی ورکوي چې ښځه په شورا کې ګډون کولی شي.

## قياس

هغه کسان چې ښځې ته په پارلمان او شورا ګانو کې د مشارکت اجازه ورکوي وايي چې انتخاب کړې شوې ښځې د يو شمير اشخاصو استازې دي او د ښځې وکالت جايز دی بل دا چې اکثر فقهاوو د اهل الحل و العقد لپاره عدالت او علم شرط کړی دی خو هيڅا هم ندي ويلي چې ذکوريت هم شرط دی. (الکبيسي: ۱۰۹۰: ۳ )

## عقل

په پارلمان او نورو شورا ګانو کې د ښځې ګډون د هغې د اهليت، سياسي او اجتماعي حقوقو سره اړخ لګوي او هم يې د شخصيت استقلال صورت نيسي چې دا چارې قرانکريم په صريح او ضمني توګه ورته ثابتې کړي دي، بل دا چې ښځې د ټولنې نيمايي برخه تشکيلوي نو حق لري چې نظر او رايه ولري. (دروزة، ۱۳۸۷: ۵۱ و أبو حجير، ۱۴۱۴: ۴۷۳)

د امامت عظمی لپاره ځان کانديدول يا بل چا ته په انتخاباتو کې رايه (بيعت) ورکول:

علماء په دې کې د نظر اختلاف لري

**لومړی نظر**: دوی وايي ښځه نشي کولای ځان کانديد کړي يا رايه ورکړي. (مخلوف، ۱۹۵۲: ۱۴۰)

**دويم نظر:** دوی وايي ښځه هم ځان کانديدولای شي او هم رايه ورکولای شي. (السباعي، ۱۴۲۰: ۱۵۵)

## دلومړي نظر دلايل

### ۱- قرآن کريم

الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ [البقرة: ۲۲۸]
ژباړه: دښځو لپاره هم په معروفه توګه هماغسې حقوق دي لکه څنګه چې د نارينه وو پر هغوی دي البته نارينه پر هغوی يوه درجه فضيلت لري.
همدارنګه فرمايي: ﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى﴾ [الاحزاب: ۳۳]
ژباړه: پخپلو کورونو کې ميشتې اوسئ او د تير جاهليت دور غوندې سينګار کړې بې ستره مه ګرځئ.
پورتني آيتونه په دې دلالت کوي چې قيادت او لوړوالی د نارينه وو لپاره دی او ښځو ته امر شوی چې پخپلو کورونو کې کيني نو په دې اساس په ټاکنو کې د ګډون په موخه له کور څخه د ښځې وتل نه ضرورت دی او نه کوم مصلحت پرې بناء دی، له بلې خوا د نارينه وو د قواميت او قيادت سره په ټکر کې دی.

### ۲- سنت

کله چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته د دې خبر ورسيد چې فارسيانو د کسری لور خپله حاکمه وټاکله، نو ويې ويل: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً» (بخاري، رقم حديث: ۴۴۲۵) (هغه قوم به کامياب نشي چې چارې يې دښځې په لاس کې وي)
پورتنی حديث په دې دلالت کوي چې د ناکامۍ علت د ښځې حاکم ګرځول دي او په دې کې دښځې له ولايت نه منع راغلې او کانديدل او رايه ورکول له عامو ولايتونو څخه دي.
رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: «الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ، وَإِنَّهَا إِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ» (رواه ابن حبان(۱۴۰۸ هـ) رقم حديث: ۵۵۹۸) (ښځه عورت ده که چېرې بهر ووځي نو شيطان ورباندې تعرض کوي او ورسره مل کيږي).
همدارنګه ترمذي په يو اوږد حديث کې روايت کړي «کله چې ستاسو مشران شرير خلک وي، شتمن مو بخيل خلک وي او چارې مو دښځو په لاس کې وي نو دځمکې لاندې برخه ستاسو لپاره تر برسيره بهتره ده.» (ترمذي، ۱۹۹۸، رقم حديث: ۲۲٦٦)

### ۳- شرعي او تاريخي واقعيت

د ازهر دعلماوو کميټې څرګنده کړې ده: (دسقيفه بني ساعده حادثه کې چې لومړی خليفه انتخابيده نو هلته اختلاف پيدا شو خو وروسته په دې متفق شول چې د ابوبکر (رضي الله عنه) سره به بيعت کيږي بيا وروسته په جومات کې عام بيعت ورسره وشو خو ښځو په بيعت کې د نارينه وو سره ګډون نه و کړی او نه ورڅخه د بيعت غوښتنه شوې وه. ( أبو أسماء محمد بن طه . ص: ٦۰۱)
**عقل:** په انتخاباتو کې ګډون او کانديدل داختلاط او ګډوالي غوښتنه کوي نو امکان لري چې ښځې ته پکې ضرر او اذيت ورسيږي نو داخپله د نه جواز غوښتنه کوي.

## د دویم نظر دلایل:

قرآن: الله پاک فرمايي: ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ﴾ [ممتحنة: ۱۲]

ژباړه: ای پیغمبره! کله چې تاته مؤمنې ښځې د بیعت کولو لپاره راشي او د دې خبرې ژمنه وکړي چې هغوی به له الله سره کوم شی نه شریکوي،غلا به نه کوي، زنا به نه کوي، خپل اولاد به نه وژني، د خپلو لاسونو او پښو په وړاندې به کوم بهتان جوړ کړی نه راوړي او په کوم معروف کار کې به ستا نافرماني نه کوي له هغو نه بیعت واخله د هغو په حق کې د الله نه مغفرت وغواړه.

دا آیت دښځو دبیعت په مشروعیت دلالت کوي چې دوی په بیعت کې دنارینه وو په شان دي.

همدارنگه الله تعالی فرمايي: ﴿رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى﴾ [البقرة: ۲۸۲]

ژباړه: نو یو سړی او دوه ښځې دي وي چې که یوه یې هیره کړي نو هغه بله به یې ور په زړه کړي، دا شاهدان دې له داسې خلکو څخه وي چې د هغوی شاهدي ستاسې په منځ کې وي نو د شهادت انتخاب خپله د دې معنی ورکوي چې ښځه د دولت د هغه وظیفې صلاحیت لري چې ورته سپارله کیږي.

**سنت**

په عملي سنتو کې ثابت دي چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) له ښځو سره بیعت کړی.(السهیلي ص: ۱۸٦)

۱- په بیعت العقبه کې ښځو گډون کړی وو.

**قیاس**

۱- د ښځې رایه ورکول په شهادت قیاس دي، ډاکټر حمد الکبیسي وایي د ښځې رایه ورکول داسې دي لکه د هغې شهادت.

۲- د ښځې رایه ورکول قیاس دي د هغې په بیعت باندې هغه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له دوی سره وکړ.

نو چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره بیعت صحیح او ثابت شو د نورو سره خو بیخي ثابت دی الله تعالی فرمايي: ﴿أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ﴾ [النساء: ۵۹]

**علماء** څرگندوي چې د انتخاباتو چارې د وکالت چارې دي او ښځه د وکیل انتخابولو حق لري ځکه انتخاباتو کې د ملت وکیلان انتخابیږي نو په اسلام کې ښځه ددې څخه نه ده منع شوې چې وکیل ونیسي ترڅو د دې له حقوقو څخه دفاع وکړي.

آثار: د عبد الرحمن بن عوف (رضي الله عنه) څخه نقل شوي چې د خلیفه د بیعت او انتخاب په هکله به یې له ښځو سره مشوره کوله.

د جمل په جنگ کې عایشه (رضي الله عنها) داخلیدل خپله په دې دلالت کوي چې ښځه د خلیفه په انتخاب کې حق لري چې رایه ورکړي. (محمد سلیمان المنصورفوري ص: ۴۰۹)

دپورتنیو نظریاتو او دلایلو پایلې:

- اسلام د ښځې مقام لوړ کړی دی.
- اسلام د نارینه وو او ښځینه وو تر منځ مساوات ثابت کړی دی.
- اسلام ښځو ته د هر ډول ظلم څخه خلاصون ورکړی دی.
- د جاهلیت له ظلم څخه یې ایستلې ده.
- کور د مسلمانې ښځې مملکت او ملکیت دی.
- اسلام ښځه له هر راز شر او فساد څخه ژغورلې ده.
- دامامت عظمی نه پرته داسې کره نصوص نشته چې ښځې یې د نورو سیاسي چارو څخه منع کړې وي.
- حافظ ابن حزم وایي چې میرمن له ولسمشرۍ پرته په نورو ټولو سیاسي او حکومتي چارو کې ونډه اخیستی شي امام ابوحنیفه او ځیني مالکیانو ته هم دا خبره منسوبه ده خو په ځیني شروطونو سره:
  - شرعي حجاب مراعت کول.
  - اصلي وجیبې ته زیان نه اړول چې هغه داولاد تربیه او د خاوند حقوق دي.
  - دواده شویو ښځو لپاره د سړي اجازه درلودل او د نه واده شویو ښځو لپاره د مور او پلار اجازه درلودل.
- د تاریخ په اوږدو کي ښځې په مستقیمه توگه د ژوند په سیاسي چارو کي ونډه نه ده اخیستې.

له ځینو کسانو سره کیدای شي دا پوښتنه پیداشي چې که په سیاسي چارو کې د ښځو ونډه اخیستنه روا وای، ولې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او خلفاء راشدینو په خپل وخت کې هیڅ دندې ورته ندي سپارلي؟

دوي ته باید ووایو چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په داسې وخت کي خپله مبارزه او د سمون فعالیت شروع کړ چې عربي ټولنه د ناوړه افکارو، دودونو، کړنو او جهالت په یو داسې سمندر کې ډوبه وه چې ترې ایستل یې رښتیا هم په ښکاره یو ناشونی کار وو، خو دا نبوي عظم او هوډ وو چې عرب یې له داسې جاهلي چاپیریاله د تمدن او پرمختگ هغه اوج ته ورسول چې یقیناً په دومره لږ وخت کې یې تمه ممکنه نه وه مگر له دې هر څه سره سره بیا هم د هغوی نفسیات او رواني حالت دې ته چمتو نه وو چې ښځې ته یې په دولتي او سیاسي لویو منصبونو کې ونډه ورکړې وای، دوی له هغه حالته رابدل شوي وو چې خپلې لونې او خویندې به یې ژوندۍ خښولې ښځې یې د یو بې ارزښته متاع په څیر پلورلې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغوی له دې حالته دې ته راوستل چې ښځو ته یې حقوق ورکړل د ځان واکداره شوه د میرمني، مور، خور، لور او نورو په توگه ورسره د ښه چلند توصیه وشوه په دیني چارو کې یې له نارینه وو سره یو ځاي ونډه واخیسته د بیلگې په ډول شفا د حارث لور په نبوي دور کې لومړنۍ

معلمه وه، ربیع د معوذ لور هغه صحابیه وه چې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره یې دحدیبیې صلحې په بیعت کې ګډون وکړ. (محمد بن عفیفي الباجوري، المعروف بالشیخ الخضري ص: ۲۰٦)
د بیلګې په توګه نسیبه بنت کعب او اسماء بنت عمرو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره یې بیعت وکړ. الموسوعة في صحیح السیرة النبویة. أبو إبراهیم، محمد إلیاس عبد الرحمن الفالوذة. ص: ۴۹۷
مګر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یو ځانګړی دولتي منصب بیاهم له دې کبله ورته نه دی سپارلی چې پورتنیو پرمختګونو ته یې ګواښ پیښولای شوای له دې ښکاري چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د شوي پرمختګ په موخه هغوی ته ځانګړې دولتي څوکۍ ورنکړه، خو هیڅ ځای یې ندي ویلي چې په دولتي او سیاسي چارو کې د ښځو ګډون ناروا او غیر اسلامي کار دی.

## کوم لاملونه باعث شوي دي چې په سیاست کې د ښځو ګډون کم رنګ شوی

هغه لاملونه چې په افغانستان کې یې په سیاسي چارو کې د ښځو ګډون کم رنګ کړی دی:

- امنیتي ستونزې؛
- د داسي نظر نه درلودل چې ښځې هم کولای شي په سیاسي چارو کې ګډون وکړي؛
- په دولتي ادارو کې اختلاط؛
- ځیني سیاسي ستونزې؛
- اخلاقي ستونزې.

## آیا داسې د حل لارې شته چې ښځې وکولای شي په سیاست کې ونډه واخلي او د خپلو سیاسي حقوقو نه دفاع وکړي:

شیخ عبدالمجید زنداني وایي: که مونږ وغواړو چې د ښځو سره انصاف وکړو د هغوی حقوق ورکړو نو په کار ده چې د ښځو لپاره ځانګړې شوراګانې او اداري جوړې کړو، نو په دې سره به مونږ ښځو ته سیاسي حقوق په داسې شکل ورکړو چې د دوی د فطرت او مسؤولیت سره به سمون خوري او هغوی ته د سلف صالح ښځو په نقش قدم باندې تلل ور وښایو. (الزندانی،۱۴۲۱: ۱۵۷-۱۵۸)

## پایله

د دې مقالی د لیکلو نه وروسته زه لاندې پایلو ته ورسیدم:

۱- د اسلام سپیڅلي دین ښځو ته په بشپړه توګه خپل حقوق ورکړي.

۲- د اسلام سپیڅلي دین ښځو ته د هغوی د توان په اندازه مسؤلیتونه ورسپارلي دي.

۳- ښځو ته جواز نه لري چې د امامت عظمی لپاره ځان کاندید کړي ځکه په دې مسئله کی علماء اختلاف لری.

۴- د خلافت نه پرته ښځې کولای شي په نورو سیاسي چارو کې ګډون وکړي خو د ځینو شروطو په عملي کولو سره لکه شرعي حجاب مراعت کول، بېل دفترونه د ښځو لپاره جوړول او له اختلاط څخه ځان ساتل.

۵- ټول هغه نصوص چې د ټولنیزو مکلفیتونو د برپا کولو په هکله په قرآن او سنتو کې راغلي، خطاب یې عام دی، ښځو او نارینه دواړو ته شاملیږي، نو ښځې هم د شرعي ضوابطو په چوکاټ کې د سیاسي مکلفیتونو په تر سره کولو مکلفې دي.

## مصادر


**القرآن الكريم.**

ابن حبان (۱۴۰۸) صحيح ابن حبان، ترتيب: الأمير علاء الدين علي بن بلبان الفارسي، محقق: شعيب الأرنؤوط، مؤسسة الرسالة، بيروت، اوله طبعه.

أبو حجير، مجيد محمود (۱۹۹٦) المرأة و الحقوق السياسية في الاسلام، مكتبة الرشد.

أبو داود، سليمان السِّجِسْتاني (۱۴۳۰) سنن أبي داود، محقق: شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي، دار الرسالة العالمية اوله طبعه.

أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (۱۴۱٦) مسند الإمام أحمد بن حنبل، دار الحديث، القاهرة، اوله طبعه.

أبو فارس، محمد عبد القادر أبو فارس (۲۰۱۵) النظام السياسي في الإسلام، تعريب: عمر محسن، مكتبة نور.

أنور (۱۴۲۰) ولاية المرأة في الفقة الإسلامي، دار بلنسية، الرياض، اوله طبعه.

البخاري، محمد بن إسماعيل (۱۴۲۲) الجامع الصحيح المختصر (صحيح البخاري)، محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، دار طوق النجاة، اوله طبعه.

البهنساوي، سالم (۱۴۰٦) مكانة المرأة بين الإسلام و القوانين العالمية، دار القلم، الكويت دوهمه طبعه.

البيهقي، أحمد بن الحسين، أبو بكر البيهقي (۱۴۲۴) السنن الكبرى، محقق: محمد عبد القادر عطا، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات، دريمه طبعه.

الترمذي محمد بن عيسى الترمذي، أبو عيسى (۱۹۹۸) الجامع الكبير - سنن الترمذي، محقق: بشار عواد معروف، دار الغرب الإسلامي – بيروت.

التميمي، عزالدين(۱۹۸۵) الشورى بين الأصالة و المعاصرة ، دار البشير - عمان ، الاردن، اوله طبعه.

الحاكم، أبو عبد الله محمد بن عبد الله(۱۴۱۷) المستدرك على الصحيحين، المحقق: أبو عبد الرحمن مقبل بن هادي الوادعي، دار الحرمين، القاهرة – مصر.

الحجوي، محمد المحمدي المهدي الحجوي (۱۹٦۷) المرأة بين الشرع و القانون، دار الكتاب – دار البيضاء، المغرب.

دروزة، محمد عزة دروزة (۱۳۸۷) المرأة في القرآن والسنة (مركزها في الدولة والمجتمع وحياتها الزوجية المتنوعة وواجباتها وحقوقها وآدابها)، المكتبة العصرية ، صيدا – بيروت.

الدميجي، عبد الله بن عمر بن سليمان الدميجي (۱۴۰۸) الإمامة العظمى عند أهل السنة و الجماعة، دار طيبة، القاهرة، دوهمه طبعه.

الدوري، د. قحطان عبد الرحمن الدوري (۲۰۱٦) الشورى بين النظرية والتطبيق، دار الكتب العلمية، بيروت.

رجب، سيد محمد (١٩٨٦) المسئولية الوزارية في النظم السياسية المعاصرة مقارنة بالنظام السياسي الإسلامي.

الزندانی، عبدالمجيد (١٤٢١) المرأة وحقوقها السياسية في الاسلام، مكتبة المنار الإسلامية، مؤسسة الريان، بيروت – لبنان، اوله طبعه.

زيدان، عبدالكريم (١٣٩٦) اصول الدعوة ، درېيمه طبعه.

السباعي، مصطفى (١٤٢٠) المرأة بين الفقه والقانون، دار الوراق – بيروت، اومه طبعه.

شلتوت، محمود (١٤٢١) الإسلام عقيدة وشريعة، دار الشروق، اتلسمه طبعه.

الشورابي، عبدالحميد (٢٠٠٣) الحقوق السياسيه للمرأة في الإسلام، دار المعارف.

الصعيدي، حازم عبدالمتعال الصعيدي، النظرية الإسلامية في الدولة، سامية: الدكتورة سامية صالح، المشاركة السياسية للمرأة،

الطبري، محمد بن جرير(١٤٢٠) جامع البيان في تأويل القرآن، تحقيق: أحمد محمد شاكر، مؤسسة الرسالة، اوله طبعه.

العيلى، عبد الحكيم حسن (١٩٧٤) الحريات العامة فى الفكر والنظام السياسى فى الإسلام "دراسة مقارنة"، دار الفكر العربى – بيروت.

الغزالي، أبو حامد محمد بن محمد (١٤٢٦) إحياء علوم الدين، دار المعرفة– بيروت. اوله طبعه.

فؤاد، عبد المنعم (٢٠٠٢) مبدأ المساواة في الإسلام، المكتب العربي الحديث، اوله طبعة.

القرضاوي، يوسف عبد الله القرضاوي، فتاوى معاصرة، المكتب الإسلامي.

الكبيسى، احمد(١٩٥٢) الشورى في الإسلام، لجنة الفتوى بالأزهر: فتوى نشرتها عام.

المتولي، عبدالحميد (١٤٢١) مبادي نظام الحكم في الإسلام ، محقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، او نور، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، مؤسسة الرسالة، اوله طبعه.

مخلوف، حسنين محمد، فتاوى شرعية وبحوث إسلامية، دار الكتاب الإسلامي

مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيشاپوري، المسند الصحيح المختصر، محقق: محمد فؤاد عبد الباقي، دار إحياء التراث العربي – بيروت.

المودودي، أبو الأعلى بن أحمد حسن(١٤٠١) تدوين الدستور الإسلامي، تعريب: محمد عاصم الحداد، مؤسسة الرسالة، پنځمه طبعه.

المودودي، الأعلى بن أحمد حسن (١٣٨٤) نظرية الإسلام و هديهُ في السياسة والقانون والدستور، تعريب: جليل حسن الإصلاحي، دار الفكر – دمشق، اوله طبعه.

موسى، حسين يوسف (١٤١٠) الإفصاح في فقه اللغة، څلورمه طبعه، مكتب الاعلام الإسلامي.